مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ضیاء فضلی

۲۰۲۰/۱۲/۰۸

# د سولې بین الافغاني خبرې او په هیواد کې د جګړې د لمنې پراختیا

د ۲۰۲۰ میلادي کال د سپتمبر د میاشتې د ۹ نیټې راهیسې د قطر په پلازمینه دوحه کې د طالبا نو او د افغانستان د رژیم له خوا د نومول شوې ډلګۍ ترمنځ د »بین الافغاني دیالوګ« په نامه د سولې خبرې پیل شوې دي .که څه هم تر اوسه د دغه خبرو د پیل څخه د دوه نیمو میاشتو څخه زیاته موده تیریږي خو لا تر اوسه په دغه په اصطلاح بین الافغاني خبرو .کې برخه والي خواوې د خبرو د یوې آجندا د جوړلو په اړه کومې موافقې ته سره نه دي رسیدلي
له بلې پلوه په جګړه ځپلي افغانستان کې د جګړو لمن لاپسې پراختیا موندلې او د سولې لپاره کومه امیدواري چې آوازه یې په افغانستان او نړۍ کې خوره شوې ورځ په ورځ کمیږي .ولې په اصطلاح د دغې جرګې مشورې سر د خبرو برخه وال نه »شي موندلای .د کابل د رژیم مسئولین وایي چې مونږ دغه خبرو ته داسې یوه ډلګۍ استولې چې د ټول »ولس« او »دولت د ملاتړ څخه برخمن کسان دي او دوی به د طالبانو سره په خبرو کې د ټولو هغه »لاس ته راوړنو« څخه دفاع وکړي .چې مونږ په تیرو ۱۹ کلونو کې ترلاسه کړې دي
لمړی غواړم دا خبره په ډاګه کړم چې په دوحه کې د سولې لپاره خبرې رواني دي نه د »لاس ته راوړنو« څخه د دفاع خبرې .کوم کسان چې د سولې په داسې حساسو او لانجمنو خبرو کې ونډه اخلي بایده دي چې لمړی د زړه له کومې سوله غوښتونکي او با دیانته کسان وي، نخبه افغان او افغان پیژندونکي وي، د افغانستان د روانو لانجو او شخړو ریښې وپیژني .په دې هم وپوهیږي چې د دیموکراسۍ او امارت ترمنځ څه توپیرونه یا ګډې ریښې شته دي که نه، د اسلامي فقې او مدني قوانینو د اصولو سره پوره آشنا یې ولري او تر هر څه مهمه خبره دا چې د سولې، روغې جوړې د افغاني او مدني .اصولو سره آشنا وي او په رښتیا سره د ولس د پوره اعتماده څخه برخورداره وي
دلته خداي دې نه کړي زه نه غواړم او ځانته دا حق هم نه ورکوم چې د سولې په غونډه کې د برخه والو کسانو په شخصیتونو باندې قضاوت وکړم .خو همدومره غواړم و وایم چې د کابل د اداري د چارو مسئولین د دغه ډلګۍ د غړیو په نوملو کې د نوح )ع (د کښتۍ د سورلیو د پرنسیب څخه کار اخیستی وي، نه د سولې د خبرو د پرنسیپ څخه او په دی .کار سره دوی په پوهه یا ناپوهۍ سره په دوحه کې د بین الافغاني سولې د خبرو ماته مخکې د مخه پلان کړې وي
د دغه خبرو بله جره دا ده چې دغه خبرې د هغه تړون لیک نه وروسته پیل کېږي چې د امریکې د متحده ایالتونو حکومت او د طالبانو ترمنځ لاسلیک شوې دی .په دغه تړون لیک کې په افغانستان کې د سولې د راتلو په اړه په مشخصه توګه کوم شرط نه دی ایښول شوی، بلکې همدومره ویل شوي دي چې د دغې جرګې مشورې سر به افغانان په .خپله خلاصوي
اصلا به په افغانستان کې د سولې د خبرو لپاره سمه لاره دا وای چې د افغانستان د لانجې درې ګوني خواوې د امریکې .متحده ایالتونه، طالبان او د کابل د اداري د استازو ترمنځ په افغانستان کې د سولې په اړه خبرې شوی وای
دا چې امریکایانو ولې د دوحې د خبرو په لمړي پړاو کې د کابل حکومت بې برخې کړی دی، داسې ګومان کېدای شي چې ښايي امریکایان دې نتیجې ته رسیدلي وي چې په کابل کې تش په نامه د دیموکراسۍ د نندارتون لوبغاړي ډیر پاتې راغلي او په خپل منځ کې سره دومره بې اتفاقه دي چې امریکایانو ښايي دا هوډ کړی وي چې د کابل د اداري سره د دغې لوبې د دوام څخه لاس واخلي، مخکې له دې چې دغه لوبه د دوی له کنټرول څخه و وځي .همدارنګه امریکایان او ناټو به دې پریکړې ته رسیدلي وي چې خپل پوځي ځواکونه له افغانستان څخه وباسي او د امریکې په متحده ایالتونو کې د جمهوري ریاست .په څوکۍ کې بدلون به په دې موضوع باندې کومه بنیادي اغیزه و نه کړي
د ۲۰۲۰ میلادي کال د فبرورۍ د میاشتې د ۲۹ نیټې په کوم تړون لیک کې چې د امریکایانو او طالبانو ترمنځ لاسلیک شوی دی په دې اړه کومه ژمنه نه ده شوې چې په افغانستان کې به هرو مرو سوله راځي، خو طالبان دغه تړون لیک د ځان لپاره یو ستر بری بولي، ځکه چې د دغه تړون لیک په بنیاد به کوم یرغل چې ۱۹ کاله د مخه بهرنې ځواکونه د میلادي کال د سپتمبر د میاشتې د ۱۱ نیټې د پیښې نه وروسته د هماغه کال د اکتوبر په میاشت کې په افغانستان ۲۰۰۱ باندې د امریکایانو او د دوی د متحدینو د یرغل په نتیجه کې طالبان د ځواک له مسنده څخه راپرزول شوي وو، دوی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

یعنی طالبانو د خپل ۱۹ کلن مقاومت په نتیجه کې امریکایان د سولې خبرو ته را ښکلي او د ۱۸ میاشتنیو خبرو په ترڅ کې په ډاده زړه طالبان په خپل دریځ ولاړ پاتې شوي دي .تر اوسه د بین الافغانی خبرو په مقدماتی بهیر کې چې کوم ګامونه اخیستل شوي دي د طالبانو شرطونه دي .د مثال په توګه د بندیانو خوشې کېدل، د کابل د اداري سره د مخامخ خبرو نه منل او یا د طالبانو وروستۍ غوښتنه چې د خبرو بنیاد به په هغه تړون لیک ولاړ وي چې طالبانو د امریکایانو سره لاسلیک کړی دی .خو برعکس د افغانستان رژیم په دغه خبرو کې بې ساری ضعیف دریځ لري او په کابل کې سیاسي لوبغاړي په ناهيلې توګه په خپل منځ کې سره بې اتفاقه دي.

دا چې د افغانستان راتلونکې به څوک په لاس کې ولري، د دې پوښتنې ځواب به په دې لیکنه کې مخکې له وخته وي، خو امریکایان له افغانستان څخه د خپلو پوځې ځواکنو په ایستلو سره د کابل اداره هم په پوځې ډګر او هم په دوحه کې د سولې په خبرو کې ښاپي یوازې پرېږدي.

دا چې طالبان به ترکومه ځایه پورې دا درایت او توانمندي ولري چې په افغانستان کې د ولس د غوښتنو او دلچسپیو استازیتوب وکړي او د ځواک د تشې د منځ ته راتلو په صورت کې د هغه جبران وشی کړی، تر اوسه دوی له یو لړ کلیشوي ویناو څخه نور څه ملت ته نه دي وړاندې کړي .خو ولس ته د یوې بشپړې روښانه طرحې او تګلارې د وړاندې کولو څخه پرته دوی د ۱۹۹۴ میلادي کال په څېر به ملت دوی په خپل غېږ کې ونه مني.

په افغانستان کې د هغه جمهوری نظام د نه بریالیتوب په هکله د هند د فقید لمړی وزیر جواهر لعل نهرو څخه چې په یو لیک کې یې خپلې لور اندیرا ګاندي ته لیکلي نقل قول وکړم» :جواهر لعل نهرو په افغانستان کې د امان الله خان د نه بریالیتوب په اړوند لیکي چې دوه کاره ډېر آسان دی یو د هغه چا په هکله نظر چې په خپلو چارو کې یې بریالیتوب تر لاسه کړی وي او بل د هغه کسانو اشتباهاتو ته ګوته نیول چې په خپلو چارو کې پاتې راغلي وي.«

د افغانستان اسلامي جمهوریت »چې طرحه یې د ۲۰۰۱ میلادي کال د دسمبر د میاشتې په ۵ نېټه د المان د بن د ښار د« پترسبرګ په ودانۍ کې د ۲۸ افغانانو په ګډون چې اصلي سیاسي لوبغاړي یې امریکایان او د افغانانو په ډله کې د »شمال د جبهې «غړي وو، جوړه شوې .په دغه طرحه کې د افغانستان ولس ته د سولې او دیموکراسۍ، د هیواد د بیرته رغونې، د یو نوي اساسي قانون د جوړولو، د مطبوعاتو او ګوندونو د جوړلو آزادي او تر ټولو مهمه د ولس لپاره د یو اقتصادي رفاه د راتلو ژمنه شوې وه .دا چې دغه پروګرام به څنګه او په کومې بودجې سره عملي کېږی په تیرو څه کم دوو لسیزو کې هغه هیوادونو چې د امریکایانو سره په ګډه افغانستان ته خپل پوځونه استولي وو که هغه د ناتو غړي دي یا نه دي د افغانستان د بیا رغونې، ټاکنو، او د دولت د عادي بودجې د تمویل لپاره پیسي ورکړي چې د دغه مرستو مجموعي اندازه د امریکایانو د مرستو څخه پرته څه نا څه ۶۰ ملیاردو ډالرو ته رسیږي.

لکه څنګه چې آمریکایی مقامات وایي یوازې دوی د افغانستان د بیرته رغونې لپاره ۱۳۵ ملیارده ډالره ورکړي دي.

یا د افغانستان لپاره د Special Inspector General for Afghanistan Reconstruction (SIGAR) د امریکې د څانګړې عمومي پلټونکې سازمان په یوه ریوټ کې ویل کېږي چې سیګار تر اوسه د افغانستان لپاره د مجموعي مرستو له جملې څخه د ۶۳ ملیاردو ډالرو په اندازه د مرستو پلټنه کړې ده چې د دغه پیسو له جملې څخه ۱۹ ملیارده ډالره حیف او میل شوي دي.

د دغه ټولو بهرنیو مرستو او لاسنیو سره سره د افغانستان وضع د نړۍ د جوامعو په قطار کې بدترین حالت لري او ورځ په ورځ له بد څخه بتریږي .د افغانستان د ټولنې نیمایي وګړي په هر اړخیزه توګه په فقر او ناچارۍ کې شپې ورځې تیروي، د وروستیو احصائیوي رپوټونو پر بنسټ په افغانستان کې په سلو کې ۵۲ وګړي د فقر او ناچارۍ ژوند تیروي .ډوډۍ کاراو کور د افغانستان د وګړو ستره ستونزه ده .هر کال د کار په بازار کې لږ ترلږه ۴۰۰ زره ځوانان ور زیاتیږي .همدا اوس د احصائیوي ارقامو له مخې ۹ ملیونه وګړي چې د کار کولو وړتیا لري وزګار ګرځي .د اندیښنې وړ خبره دا ده چې په اصطلاح »د ملي وحدت حکومت «په منځ ته راتلو سره د وزګارانو شمیر زیات شوی دی.

افغان ځوانان د خپلې راتلونکې په اړه سخت ناهيلي دي او همدا علت دی چې دوی خپل ژوند په خطرکې اچوي او په غیر قانوني مهاجرتونو لاس پورې کوي .له بله پلوه وزګاري په هیواد کې د نامشروع کارونو اساسی علت بلل کېږي .ستر جنایتونه لکه غلاوې، انسان وژنې، برمته نیول، د قطاع الطریقي شنیع اعمال او د ترهګرۍ بنیادي ریښې چې د فقر او وزګارتیا څخه اوبه اخلي، نو که د دغه بد بختیو او بد مرغیو لمن هرڅومره وځیرو نه خلاصیږي، خو بیا هم د دغه هیواد مافیايي سیاسي لوبغاړي د خپلې دغې ۱۹ کلنې واکدارۍ په بهیر کې یوازې په اصطلاح د سکې یو مخ ویني او د خپلو لاسته راوړنو »دست اوردها «څخه خبرې کوي.

کومې لاس ته راوړنې؟

دموکراسی؟

که د دغه اصطلاح لنډ تعریف وکړو نو د دیموکراسۍ مانا به د ولس په ارادې سره د یو دولت جوړول، د قانون پلې کول یا حاکمیت او فردي شایسته سالاري وي .خو د کابل د اداري دیموکراسي د جان کیري او پومپیو په ارادې سره منځ ته راغلې حکومتونه، قانون ته غاړه نه ایښودل او د فردي شایسته سالارۍ په ځای قومي، ژبنې او سیمه ییزو توپیرونو را پارول دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د مطبوعاتو آزادي؟
د دې پر ځای چې د مطبوعاتو د آزادۍ څخه په اصطلاح د دولت د څلورم ځواک په توګه کار واخیستل شي او مطبوعات او رسنی په هیواد کې د ولسواکۍ، ملي یووالي، سولې او ثبات په خدمت کې وي او د افکارو د آزادۍ په رڼا کې د دولت د درې ګونو ارګانونو چارې وڅاري، دوی قومي، ژبني او سیمه ییزو اختلافونو ته لمن وهي او تش په نامه د افکارو د آزادۍ تر سیوري لاندې غلط او غرض آلوده معلومات خپروي او تر هغه بریده افراط کوي چې په عامه افکارو او اذهانو کې د هیواد ملي هویت او ملي شخصیتونو کارنامې تر سوال لاندې راولي یا د استدلال او ژورو څېړنو څخه پرته جعلي اتلان جوړوي او داسې نورې بې خونده خپرونې یا »ټوکې ټکالې «چې په تیره بیا د هیواد ځوان نسل بې لارې کوي .د مطبوعاتو او افکارو آزادي؟ هو خو نه هغه څه چې نن ورځ د هیواد په مطبوعاتو او رسنیو کې د افکارو د آزادۍ په نامه لاس ته راوړنې «بلل کېږي».

ښوونه او روزنه او د هیواد اقتصادي تګلاره؟

دا دوه ډیرې حیاتي مسئلې دي او ښه به وي چې په یوه بله لیکنه کې پرې یو څه ژور بحث وکړو .خو د ښوونې او روزنې په برخه کې د افغان نامتو لیکوال علامه ګل پاچا الفت یوه جمله را په یاد شو چې وایي:
هرڅه چې له مونږ څخه اخلئ واخلئ، خو زمونږ نخبه مغزونه را څخه مه اخلئ .«نن ورځ زمونږ د هیواد لویه فاجعه» همدا ده چې له هیواد څخه بهر زمونږ کارپوه او نخبه کسان، زمونږ بشري پانګې په ډله ییزه توګه له هیواد څخه وځي .په یو احصائیوي رپوټ کې ویل کېږي چې یوازې په سلو ۵۰ افغان میرمنې غواړي له هیواد څخه و وځي!
دلته مې یوه لنډه ټوکه را په یاد شو چې غواړم لیکنه په همدې ټوکه سره پای ته ورسوم.
وایي چې :یوه شپه د ملانصرالدین کور ته غله ورغلل .ملا له خپلې کډې سره ویده وه .د دواړو پام شو چې غله راغلي دي، خو ملا و ویل چې پریږده څه به وکړي .غلو چې هرڅومره هاخوا دې خوا وکتل نو څه یې پیدا نه کړل .یو غل وږی شوی وه او دسترخوان ته یې پام شو .غوښتل یې چې ګوله ډوډۍ وخوري، خو په دسترخوان کې یوه ګوله ډوډۍ هم نه وه .په همدې شیبه کې د ملا ښځې ته خندا ورغله .غله ورته و ویل:

خانده خانده چې ډیر ښه کور دې کړی دی!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ